مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی ۲۰۲۳ / ۱۰ / ۱۰

# خپله خوښه

د چا خوښه چیري ځي په کومه لار ځي
څوک اړ نه دی چې د بل چا په ګفتار ځي
طبیعت انسان ازاد دی زیږولی
سړی ولي بیا د بل چا په مدار ځي
د پارسا او د ترسا پرېکړه ده ګرانه
هر څوک پوه شه چې پارسا که ګنهګار ځي
میخانې ته خلک ځي پخپله خوښه
که جومات ته خلک ځي، هسې له ډار ځي
د انسان عمر ډېر لنډ او شپې په شمار دي
خلک پرېږده میکدې ته که خمار ځي
پند او وعظ ته د بل چا اړتیا نشته
جهنم ته پښتانه پخپل اختیار ځي
د جنت د خیالي حورو په هوس کې
عمر ټول د پښتانه په انتظار ځي
د ملا د خپلې خېټې په فتوا کې
وژلتون (۱) ته پښتانه قطار قطار ځي
ژوند یو خوب وو، چې په تشو وعدو تېر شو
وچې شونډې «مرادزی» له دې دیار ځي
یا د آس د پښو ټکهار دی چې یې اورم
یا مستی نه کومه پیغله په دې لار ځي

**یادوونه:**

(۱) وژلتون = قتل ګاه، مسلخ

د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر ۸ مه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ